سمسور ودان

۲۰۲۲/۱۱/۲۱

# ضمیر لرم

په ښي لاس کې نیولی خړ کندول را اوږد شو: د خدای په نامه یو څه راکړه؟
مخکې له دې چې د سوالګر خبرې ته وګورم، جیب ته مې لاس کړ. شوم نه وم خو په بټوه کې مې ماتې روپۍ نه وې، په ډېرو زما زړه ونشو. ومې ویل: وبښه وروره! ماتې نلرم.
هغه وویل: خدای دې درکړي!
هغه ته له کتلو پرته روان شوم. څو قدمه وړاندې چې لاړم په ذهن کې مې دې جملې چې (خدای دې درکړي) انګازې پیل کړې. غږ اشنا و. قدمونه مې بېرته د سوالګر په لور ورغبرګ کړل. سترګو ته یې ځیر شوم. چېرته مې لیدلې وې؛ خو ولې مې ذهن ته نه راتللې. تندي ته مې لاس ونیو. هغه هم حیران راکتل. ما کړل: ته خو...
ته مې ضرور یو چېرته لیدلی یې!
هغه اندېښنې په مخه کړ.
یو دم مې زړه ټکان وخوړ. پرند!...
پرنده ته!
ته ولې داسې شوی یې؟ ستا کیڼ لاس چیرې. غم مې عصبي ټکانونه راکول. پښو ته یې ځیر شوم: او دا ستا پښې! ستا پښې چیرې دي؟
په سترګو کې یې اوښکې راغلې! مخ یې واړاوه.
زه یې بیا مخې ته ودرېدمه! پرنده! ته ولې نه غږېږې! په تا څه شوي؛ مخ ولې را نه ګرځوې، خبره ولې پټوې.
هغه وویل: زه دې نه پېژنم! څوک یې وروره؟
په تېزه مې وویل: درواغ وایې! ته ما پېژنې. ته خو یو تکړه رسام او انځورګر وې! داسې نه وې.
مخ یې راوګرځاوه، په قراره یې وویل: ما ولې ښاریانو ته شرموې؛ خیر ده لاړ شه.
بکسه مې له اوږې ښکته کړه او ورسره کېناستم. کړه مې: پرنده! دا ولې؟ اخیر ولې؟
په ستوني کې یې چیغې راټولې شوې؛ غږ یې بدل شو. مړ ژواندي مخ باندې یې څو د غم لیکې ښکاره شوې. په غوسه یې وویل: ما پرېږده سمسوره! لاړ شه؛ ولې راپورې خاندې!
ومې ویل: تا وپېژندم اوس دې کله پرېږدم.
له لاسه مې ونیو. په غېږ کې مې ویلچیر ته پورته کړ. هغه خپل همت کاوه او زه یې نه پرېښودم، چې ویلچیر ته یې ورپورته کړم؛ خو زه ډېر دردېدلی وم. هغه مې داسې نشوای لیدلی.
*
هوټلې ته مې وویل: دوه کبابونه راوړه.
د پرند په څېره کې تته موسکا پرته وه. داسې موسکا لکه کال وړاندې یې چې په خپل ننداړتون کې د انځورونو، نقاشیو، رسمونو او خطاطي لیکونو د لګولو پر مهال وه؛ مګر هلته یې کله ناکله موسکا په خندا هم بدلېدله.
کباب راوړل شو. پرند ته مې ډوډۍ څو ټوکړې کړه. هغه مې لاس ټیل واهه: پرېږده زوروره! لا خو ژوندی یم. ډوډۍ پرې کولی شم.
د خوراک په منځ کې مې تري وپوښتل: دا هر څه ولې؟
ستا کیڼ لاس، دواړه پښې، ښکلې جامه او روغ سیرت څه شول؟ دا د کوم ظالم ښکار شوې؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپلې لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ويې ويل: په کابل ښار کې مې چې ننداړتون پای ته ورسېده، لاس ته راغلي پيسې مې کور ته يوړې، ښه ژوند مې پيل کړ. د نويو تابلوګانو پر جوړولو مې کار شروع کړ؛ خو نه پوهېږم کومو سترګو وخوړو. د تورې شپې په درنې خاموشۍ کې څو سخت اوازونه شول او زما روغه دنيا د تل له پاره ويجاړه شوه. اباد کور مو لوټې لوټې، د خاورو امبار او کنډواله شو. ميرمن، بوازينۍ اولاد، کشرى ورور، مور، پلار او کونډه ورينداره مې هم له دريو وريرونو سره له لاسه ورکړل. په ژونديني مړ شوم. هره خوا مې چيغې او فرياد وکړ؛ خو چا وا نهورېده. دا چې يو لاس او دواړه پښې مې له لاسه ورکړي وو. له هر کاره ولوېدلم. وخت تېرېده. د وجود ځواک او د زړه زور مې له لاسه ورکاوه او ان تر ننه دغه سلسله روانه ده. له مزدورۍ، رسامۍ، خطاطۍ او انځورګرۍ ولوېدلم. هر انځور مې چې رسماوه، درد او غم به پکې منعکس و او دې وطن کې څوک غم نه غواړي؛ خوشحالي لوټوي؛ خو خوشحالي له ما کډه کړې وه. تر يو څه وخته ليرې او نيږدې خپلوانو مرسته راسره کوله؛ خو چې دوه ورځې مې نهارې تيرې کړې؛ نو سوال ته مجبور شوم. کلي او ښار مې له تربورونو ډک وو؛ نو زړه مې وکړ، چې دې ولايت ته راشم. پر مخ يې اوښکې راغلې او وروستۍ جمله يې وويله: اوس دا دی سوال کوم.
زړه مې ډير بد شو. په خپل انسانيت وشرمېدم. د پرند په ټولو تربورونو مې لعنت ووايه، چې يو زړه ماتی خپل نشي ساتلی. ترې و مې پوښتل: نو له خپلوانو به دې يو څه غوښتي و.
په خواره خوله يې وويل: ضمير لرم! ترېور نه مرګ هم نه غواړم؛ ژوند خو لا ډيره ليرې خبره ده.
سر مې وځړاوه او داسې مې حس کوله چې زما ضمير او زړه هم د پرند د ترېورونو په څېر دی؛ ځکه زه هم له هغوی سره په يوه اړيکه کې شريک وم او هغه اړيکه د انسانيت وه، چې په هغوی کې نه و.؛ خو جوړښت او اسکلېټ يې د انسانانو وو.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ